محمد هارون خپل شعشعی

۱۴ سپتمبر ۲۰۱۳

## د « ننگول » سهي او جعلي مانا

### اوله برخه

په افغاني مطبوعاتو کې د ډېرو بې خونده او کمزورو نوو ټکو، ترکيبو او عبارتو تر څنګ، کله کله ځيني لرغوني ټکي هم په ناسمو او جعلي ماناوو کاريږي، چې« ننګول » يا« ننګونه » يې يو روښانه مثال دئ. په دې ليکنه کې د علمي او ادبي شواهد په وړاندې کولو سره د دې اشنا او مروجې کليمې د اصلي او جعلي ماناوو په اړه څو لنډي خبري کوو.

په ناسمه او جعلي مانا د« ننګول »،« ننګونه » او« ننګوني »کارول له هغه وخته پيل سول، چې ايراني ژباړونکو د انګرېزي چالنج/ چيلينج(**challenge**) يا ورته اوروپايي ټکو د ترجمې دپاره د پرېمانه پارسي ټکو پر ځای د تورکي ژبې و« چالش/ چاليش » ته مخه کړه؛ او زموږ ځينو دري ژبو ژورناليستانو او ليکوالو يې هم په پټو سترګو پيروي وکړه. ما ته په پښتو کې د« ننګول » يا « ننګوني » ناسمه او جعلي مانا ځينو نورو ټکو غوندي د پوهاند صاب ( صاحب ) ډاکتر مجاور احمد زيار له لغوي اختراعاتو او ايجاداتو څخه ښکاري؛ ځکه د پښتو په لرغوني او معاصر ادب کې( کي يې ) د استعمال هيڅ څرک نه لګيږي. ښاغلی زيار له خپلي وضعه کړي مانا سره دونه ډېره مينه لري، چې د يوې ليکني په څو پرله پسې جوملو کې څلور واره تکرار کړې ده. دی کاږي:

**« ټيک د ۱۳۸۶ل/۲۰۰۷ په هماغولومړيو شپو ورځو کې چې ما د ۱۳۶۰ل کال چاپ شوې پښتو ليکلار له نويو زياتونواو کرونو او بيا نوي نامه(پښتو ليکلاربنود) سره چاپ ته سپارلې وه، هوتک صاحب راته له کراچيه د ډاکټر پالوال((معياري پښتو)) پنډ و پير کتاب زما پر پته اکسفورډ ته راواستاوه، نوما يې په غبرګون کې اړوند خپرندوی ته دالانديـ((ننګونه)) وروواستوله او هغه هم د کتاب پر تندي ور سرباري کړه:ما هم ورته له دې پرته چې خپل دا له چاپه له راوتو سره ور ډالۍ کړم، نورڅه نه درلودل. ځکه پوره باوري وم چې هماغه((ننګونه)) او اړونده چلندلار(پروسيجر) به يې بسيا کاندې خو له بده مرغه وار له مخه يې د پالوال د کتاب تر څنګه خپله تولګه زما د((ننګوني)) د ننګوني لپاره کافي او شافي ګڼلې وه.نو که دغه پروسيجر او اړوند لاربنود په اسماني کتابونو او صحيفو هم ورزباد کړم، بيايې هم خپله سيمه واله منلوته نه پرېږدي او تولمنلی ګردودي((غورچاڼ)) راننګوي... »**[1]

د پښتو و محققو ژبپوهانو، لغتپوهانو او ادیبانو ته څرګنده ده، چې« ننګول » د پښتو د جنوب - لوېدیځي لهجې د ویوونکو ډېر عام او مروج ټکی دئ؛ هره ورځ يې د عام و خاص په خبرو او محاورو کې استعمالیږي؛ مثلاً خلګ وايي: « پلاني ډېر زیارتونه او پیران ور و ننګول، خو تر اوسه يې لا د بخت غوټه نه ده خلاصه سوې.»،« پلانی هم در و ننګوه، ګوندي په دې نېک کار کې څه ونډه واخلي.» او داسي نور.

**راسئ تر دې شفاهي مثالو وروسته، د پښتو په معاصر ادب کې هم د دې ټکي د استعمال څو مثالونه وګورو:**

د پښتو استاد او خدمتګار- ارواښاد مولوي صالح محمد هوتک( ۱۳۰۸ق/ ۱۲۶۹ش - ۱۳۸۰ق/ ۱۳۳۹ش) د خپلې« پښتو مثنوي» په شرو( شروع ) کې د« زما عرض » تر عنوان لاندي داسي راوړي دي:

پر نېک فال مي دی نیولی
مولوي مي ننګولی

پینځه بیته کښته بیا هم « ننګوم » ټکی راوړي:

زه چي هر بیت جوړوم
مولوي پر ننګوم[2]

د پښتو نامتو فولکوریست، ادیب او قاموس لیکوونکي- ارواښاد محمدګل نوري ( ۱۲۷۹ - ۱۳۵۲ش) هم د خپل ناچاپ اثر« زوړ کندهار » په یوه برخه کې« ننګول » ټکی په همدې مانا استعمال کړئ دئ. دی کاږي:

« ... د احمدشاه بابا ښار په څورلسو غولبو مخکه کې، چې اته سوه او څلوېښت جریبه مربع کېږي، جوړ سوی دئ؛ د توپخاني دروازه مخ پر قبله وه، ښکارپر دروازه د سهېل پر خوا او د عیدګاه دروازه مخ د قطب پر خوا خلاصېدله. د احمدشاه بابا د ښار دروازي او څڼځیرونه به ښځو د تبرک پر ډول ننګوله او د ښځو پر تیو چې به درد وو یا به ئې شیدې نه درلودې نو دغه څڼځیرونه به ئې پربولله او په هغو اوبو به ئې خپل تې مینځله نو الله تعالی به ئې تې جوړ او شیدې به ئې جاري کړې. د دروازو خاوره خورده ګټل کېدله هر چا به وړه او د خوردي پر ډول به ئې خوړله...»[3]

لوی استاد- ارواښاد علامه عبدالحي حبیبي( ۱۲۸۹ش/ ۱۹۱۰ع - ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴ع ) په یوه تحقیقي شننه کې د اخون پنجو د نامه او شهرت په اړه داسي کښلي دي: « سید عبدالوهاب تر سلطان محمود وروسته د پښتنو مشر سو او د ده د خلافت چوغه يې واغوستله او هغه وخت يې عمر ۴۸ کاله و. په ۹۹۰ هـ کې د پېښور اکبر پوري ته راغئ او دلته يې له اتکه تر خیبره یو ملي او روحاني تنظیم جوړ کړ او د عمر پر ۹۶ کال د رمضان پر ۲۷مه ورځ دوشنبې ۱۰۴۰هـ همدلته مړ سو او قبر يې تر اوسه هم معلوم دئ، خلک يې ننګوي.»[4]

په تېرو درو سرو ادبي مثالو کې هم له ورایه ګورو، چې « ننګول » له کم ( کوم ) چا یا کم شي څخه د پېرزویني یا کومک غوښتلو په مانا دئ، نه د مخالفت کولو، ضدیت کولو، اعتراض کولو او ردولو په مانا، چې د ښاغلي زیار صاب په لیکنه کې څو پلا تکرار سوئ دئ. زموږ هوښیار او حقپال لوستونکي په خپله قضاوت کولای سي، چې کومک غوښتل چیري او ردول یا اعتراض کول چیري؟! البته، دا ټکی د افغانستان په رسمي او سرکاري مطبوعاتو کې د مشکلاتو او خنډونو په مانا هم کاریږي، چې هغه هم د « ننګول » له اصلي او سهي مانا سره ښپیر مغایرت لري؛ مثلاً ویل کیږي: « مبارزه علیه فساد اداری با چالش های جدیدی مواجه گشته است.» په پښتو کې وایي: « د اداري فساد پر ضد مبارزه، له نوو ننګونو سره مخامخ سوې ده.»

له ښاغلي زيار او ملګرو څخه يې بايد پوښتنه وسي، چي د « ننګول » دا نادودي او ناآشنا ماناوي چيري وموندلي؟! کشکي خو د دې خودساخته او خودپرداخته مانا د اثبات دپاره له پښتو ادب څخه يو سند هم وړاندي کي!

ښاغلی زيار ادعا کيي، چي په خپله مښتو( مجاوري پښتو) کي د ده په وينا د کنداريانو و ځينو ټکو لکه ننګول، ترينګلی، پوړ او داسي نورو ته هم ځای ور کړئ دئ؛ خو حقيقت لمر غوندي روښانه دئ، چي زيار صاب او ملګرو يې پر خپلو زرو جعلي او خودساخته ټکو سربېره د کنداريانو له دغو ټکو سره هم لو او نه بخښوونکي جفا کړې ده. دا جعلي او ساختګي مفاهيم کټ مټ داسي مانا لري لکه څوک چي په خوله انار وايي، خو په زړه کي مخسد انګور يې. انار خو ټول پښتانه د انارو( سور مي سندوخک د سرو غمييو ډک ) په مانا پيژني نه د انګورو. کله چي انار وايو بايد مخسد او مراد مو همدغه د سرو غمييو ډکه مېوه يي نه انګور، چي د تعريف او توصيف دپاره يې بايد بله کيسی جوړه سي. ننګول، ترينګلی، پوړ او داسي نور هم بايد په هغه مانا استعمال کو،چي په خلګو کي دود ده. يو وخت ښاغلي نورالباري له کندهاره په يوه کرنه کي ليکلي وه، چي هارون خپل د لويو استادانو ( مخسد يې پوهاند زيار ؤ ) پر ليکنو هم په سره قلم چليپا کاړي. زه وايم: که د نورالباري «لوی استادان» د بسته اولس ژبه په خپل لاس کي اخلي؛ او د شخصي ذوق له مخي چپه و راسته غوبولونه پکښي کيي، بيا خو هارون خپل بي سره قلمه هيڅ چاره نه لري؛ ځکه پښتو د يوه لوی او پياوړي قام ژبه ده. هر پښتون حق څه چي وجيبه او مسؤليت لري، د خپلي مورنی او پلرنی ژبي د بي خوندی او ورانی په تينګه مخه ونيسي.

که چيري نيولوجيست په شعوري يا غيرشعوري توګه د خلګو پر مروجو او معمولو مفاهيمو د بطلان کرښه کاږي؛ او پر ځای يې له خانه نوي ماناوي را باسي، په داسي حالاتو کي به د خلګو له اشنا او مأنوسو ماناوو سره څه چلن کيږي؟! ايا کولای سو د کليمو مروجي او مستعملي ماناوي هم چټلو او منسوخو کاغذو غوندي، په کچرَه کي واچوو؟! مګر د کليمو ماناوي او استنباطات په يوه ورځ کي جال سوي دي، چي د « لغت تراشانو » په امر به د سترګو په رپ کي د خلګو له حافظو پاکيږي؟! ايا بي څېړني او پلټني و لرغونو کليمو ته نوي ماناوي تراشل د زړو او نوو مفاهيمو تر منځ و ټکر او ګوډوډی ته لمن نه وهي؟! تاسي وګورئ « مرسته » زموږ په لرغوني ادب کي هر ځای د غوښتني، طلب، تر لاسه کولو، لټون، اشتياق، هيلي، اوميد او داسي نورو په مانا راغلي ده. د پښتو عاليمقام عرفاني شاعر- علي محمد مخلص( تر ۱۰۶۹ هـ ق پوري په يقين سره ژوندی ) وايي:

د بلبل په دود پــــه مرسته د ګـلزار ځه!

له طلبـــــه مـــــه دريږه بيقـرار ځـــــه!

د پښتو نوميالي شاعر- خوشال خان خټک ( ۱۰۲۲ - ۱۱۰۰ هـ ق ) په يوه غزله کي داسي را وړي ده:

اوس مي بيا مونده په کور کي

چــه دايـــم يي وم په مرســـته

د حميد بابا( تر ۱۱۴۸ ق پوري په باوري توګه ژوندی ) په ديوان کي هم کټ مټ، په دغه مانا راغلي ده:

خودکام آشنا په مرسته د خپل کام لاړ

لـــه عزيزه نا آشـــنا په اوږده ګام لاړ

تاسي د پښتو د لرغوني ادب په هر منظوم او منثور اثر کي وګورئ،« مرسته » هر چيري په دغه مانا استعمال سوې ده؛ خو په خواشينی سره نن د افغانستان د علومو اکاډيمی د پښتو - پښتو تشريحي قاموس او

ډېرو نورو پښتو قاموسو په ګډون، زموږ په شفاهي او تحريري ادب کې دا کليمه یوازي د کومک( کمک)، بسپني، معاونت، اعانې، چندې او داسي نورو په مانا استعمالیږي. د پخوانی مانا یادونه یې هم څوک نه کيي. پوښتنه دا ده، چي پښتو او پښتنو ته د مرستي د نوي مانا په تجويز او دودولو کي عملاً څه ګټه ورسېده؟! هغه مانا يي تر خاورو لاندي سوه، چي په ټولو ادبي اثارو کي ثبت سوي ده، خو هغي مانا يي دونيا پر سر واخيسته، چي بې ادبي لرغونتيا د شخصي ذوق له مخي ټاکل سوي ده. ايا په دې کار سره مو، په لوی لاس خپله پښه په تېشه و نه وهله؟! لرغونی ادب مو ځان ته پردی يا لږ تر لږه سخت نه کئ؟! تاسي د ژبي ګرانول، بې خونده کول، پيکه کول او بالاخره ورانول څشي ته واياست؟! ايا دا يي له زرو مثالو څخه يو کوچنی مثال نه دئ؟!

د دې استدلال له مخي بايد موږ ټول په دې خبره سر خلاص کو، چي په تیاره کي ټوپونه وهل چا ته هيڅ ګټه نه رسيي. نوموړی/ نومړی، ترينګلی، پوړ او ډېري نوري کليمي هم ګرده د داسي ټوپو مثال لري. تاسي وګورئ نوموړی/ نومړی زموږ په زړو ادبیاتو کي هر ځای د نامي، نامدار، نوموتي، نومَوَر، نامتو، نوميالی، مشهور او داسي نورو په مانا راغلئ دئ. د جنوب- لوېديځي لهجي ويونکو دا مفهوم تر يو حده ژوندی ساتلئ دئ؛ مثلاً دوی وايي: « پلاني په پوهه او هوښياری کي نوم وړئ دئ.» ياني پلانی په پوهه او هوښياری کي نامي او نامداره دئ؛ خو نن ګورو چي ژورناليستان، شاعران، ليکوالان او حتا ډېری څېړونکي يي د پاړسي« نامبرده » د پښتو معادل په توګه کاريي؛ حال دا چي هيڅ پښتون، له چتراله تر هراته، دا ټکی د پاړسي« نامبرده » په مانا نه کاريي. ځيني خو يي حتا د بې ساه يا بې جانه شيانو دپاره هم په پيخر کاريي؛ مثلاً وايي: نوموړي مرستي، نوموړي دوکانونه، نوموړي تلوېزونونه او داسي نور. په داسي حال کي چي د دې مخسد دپاره خو په پښتو کي له ده، هغه، دې، هغي، دوی هغوی څخه کار اخيستل کيږي؛ مثلاً پښتانه په خبرو کي د نارينه د نامه د تکرار پر ځای وايي: « هغه لوی پهلوان دئ.» هيڅکله نه وايي:« نوموړی لوی پهلوان دئ.» د ښځينه نامه د تکرار پر ځای وايي: « دې/ هغي په ځوانانو اور لګولئ دئ.» هيڅکله نه وايي: « نوموړي په ځوانانو اور لګولئ دئ.» نوموړي مرستي، نوموړي دوکانونه، نوموړي تلوېزونونه او داسي نور هم ټول ترجمه سوي او جعل سوي عبارتونه دي. زموږ خلګ يي پر ځای دغه/ هغه مرستي، دغه/ هغه دوکانونه، دغه/ هغه تلوېزونونه او داسي نور وايي. ترينګلی د پښتو د جنوب - لوېديځي لهجي لرغونی ټکی دئ، چي له بابا ادمه تر دې دمه د پروس، بروس، عبوس، تريو تندي، بدمزاجه، بدخويه، بد نيته، شوم، سوګت، اروا وړي، کنجوس، بخيل او داسي نورو په مانا استعماليږي، خو ښاغلی زيار صاب او شاګردان يي بې دليله هره ورځ په ويبپاڼو، ورځپاڼو، راديوګانو او تلوېزونو کي د ناارامه، بې ثباته، ناکراره او داسي نورو په مانا کاريي. د دې پر ځای چي و وايي: « د هيواد حالات ناارامه يا ناکراره دي.» دوی وايي: « د هيواد حالات ترينګلي دي.» کنداريان چي له راديو يا تلوېزون څخه د « ترينګلو حالاتو » عبارت واروي، يو و بل ته وګوري؛ هک پک سي چي خدايه « ترينګلی » خو پيژنو، مګر دا « ترينګلي حالات » يي بيا څه ټکه ده! « پوړ » هم له پېرييو پېرييو راهيسي د ودانی د طبقي يا منزل **(storey,** **level)** په مانا په خلګو کي پراخ استعمال لري؛ مثلاً خلګ وايي: « پلانی ودانی اوز( دونه ) پوړه لري.»،« زموږ کور په پينځم پوړ کي دئ.» او داسي نور؛ خو نن ګورو چي زموږ لغت تراشان او لغت پرانان ( نه لغتپوهان ) يي د ودانيو پر ځای و انسانانو ته پورته کښته کيي؛ مثلاً وايي: لوړ پوړي چارواکي، لوړ پوړی پلاوی او داسي نور. لکه څنګه چي عربان د نارينه او ښځي دپاره « محترم » او « محترمه » يا هنديان د شري او شريمتي ټکي کاريي، موږ هم د دې مخسد د پاره « ښاغلی » او « ښاغلي » لرو، چي « ښاغلی » يي د نارينه او « ښاغلي » يي د ښځي دپاره استعماليږي. اوس نو که نارينه ته « ښاغلی » او ښځو ته بې دليله « آغلي » و

وایو، بیا نو پوښتنه دا ده، چې له « ښاغلي » سره څه معامله کوو؟ « ښاغلي » خو شپه و ورځ د پښتو د جنوب - لوېدیځي لهجې په خبرو او مرکو کې کارېږي؛ حال دا چې « آغلی/ آغلې » له پېړیو پېړیو راهیسې مړه کلیمه ده. پښتو متنپوهانو ته مالومه ده، چې« آغلی » زموږ په لرغوني ادب کې و مذکر او مؤنث دواړو ته راغلی دئ؛ خو« ښاغلی» په سل کې سل مؤنثه صیغه ده، چې یوازې و ښځینه جنس ته استعمالیږي.[۵] البته، دا مؤنثه صیغه د چا د شخصي ذوق یا لهجه یي برترۍ غوښتنې محصول نه ده، د پښتو په لرغوني ادب کې هم پوخ او پیاوړی ملاتړ لري. مانا دا چې د جنوب - لوېدیځي لهجې ویوونکو د دې کلیمې په کارولو سره د خپلو پلرو او نیکو ژبه په پوره امانت او اصالت خوندي کړې ده. دلته یې د خوشال خان خټک له کلیاتو څخه یو مثال وړاندې کوو:

تر سـر تـر پایـــه لیلا ښاغلې ده

سینه یې ځکه د مجنون داغلې ده

مـینـه څـــه هسې آسانـه نـه ده

چـې بېـځـایـه پــه چا راغلې ده[۶]

**په دې خبره د هر چا سر خلاصیږي، چې د نوو شیانو یا نوو پېښو د افادې دپاره د ژبې له زړو توکو څخه استفاده هیڅ بدې او مانع نه لري؛ لکه د پوهنتون ترکیبي توکی، چې د پښتو له « پوهنه » او« تون » څخه ترکیب سوئ؛ او د یوه کاملاً نوي لغوي مفهوم یانې انګرېزي یونیورسټی (university) د افادې دپاره په کار لوېدلی دئ. زموږ خلګو پخوا پوهنتون نه پېژندئ؛ خو له پوهني او تون سره یې پخوانی اشنایي لرله. په دې خاطر نو د داسې توکو په استعمال او رواجولو کې هیڅ ځنډ او خنډ نسته؛ خو ننګول، نوموړی، ترینګلی، پوړ او داسې نور هغه توکي دي، چې له سوونو کالو راهیسې په خاصو ماناوو استعمال سوي یا تر اوسه استعمالیږي؛ ځکه یې نو په نوو ماناوو کارول، خلګ له لویو مانوي( معنوي ) کړاوونو او ګډوډیو سره مخامخ کېږي.**

**دا خبره سمه او سهي ده، چې د زماني په تېرېدو سره د هرې ژبې په لغتو، تعبیرو او محاورو کې مانوي بدلونونه راځي؛ خو سره له دې هم ادیبان، ژبپوهان او لغتپوهان نه یوازې د کلیمو و زړو ماناوو او تعبیرونو ته ناپامي او بې پروایي نه کېږي، بلکې په ساتنه او روزنه کې له هیڅ ډول زیار او کوښښ څخه مخ نه اړیږي. ادبپوهنه، ژبپوهنه، لغتپوهنه، عقل او منطق هم تول ځکم کیږي، چې د خلګو ژبه، ادب، فوکلور او نور فرهنګي ارزښتونه باید هیڅکله تر شخصي ذوق، لهجه یي، سمتي، قومي، سیاسي او نورو اختلافونو قرباني نه سي. زموږ « لغت تراشان » او « لغت پرانان » باید و دې خبرې ته ژور پام وکې، چې د نوو توکو او نوو ماناوو په رواجولو کې خپلسري او منماني، ژبه له خلګو پردی کیږي؛ او په دې خبره هم د هر چا ښه سد رسیږي، کله چې د ژبې او نورو فرهنګي ارزښتو ریښې په اولس کې پرې سي، بیا نو د هغې ژبې او هغه دود و دستور ساتنه او پالنه هم نامکن کار دئ؛ ځکه خلګ د پردی ژبې او پردي دود و دستور په دفاع کې کله دریږي؟! همدا وجه ده، چې متنفذې ژبې او یرغلګر فرهنګونه یې د سترګو په رپ کې ځای نیسي.**

---

ماخذونه او یادښتونه

[۱] د پوهاند صاب ډاکټر مجاور احمد زیار ښپیړه لیکنه د دې لینک په کښېکښلو سره لوستلای سئ:

http://www.dawatfreemedia.org/index.php

[۲] مرحوم مولوي صالح محمد هوتک، پښتو مثنوي ( کابل: د پښتو د انکشاف او تقويي رياست، د افغانستان اکاديمي، ۱۳۵۰) ۳.

[۳] گران مطيع الله روهيال ته کورودانی وايم، چي د ځينو نورو اثارو له ټاپپ سوو نوخسو سره يي د دي ناچاپ کتاب يوه کاپي هم له کندهاره را ايميل کړه. نه پوهېږم، چي په دې وختو کی د پخوانی علمي - فرهنگي ياراني خوند ولي نسته؟ خير، بايد دا خبره هېره نه کړو، چي د دې فوکلوريک- تاريخي اثر په متن کي خورا ډېري ټاپيي تېروتني سوي دي. کی چا د چاپ اهتمام کاوه بايد پر ځينو گټورو حاشيو او تعليقاتو سربېره يي و دې اړخ ته هم ټينگ پام وکي.

[۴] عبدالحی حبيبي، « اخوند پنجو او د دې ډلي کارونه په پښتو ادب کي،» کندهار۳ ( ۱۳۴۱ش ): ۱ - ۳

[۵] محمدهارون خپل شعشعي، « آغلي » که « ښاغلي »؟ لروبر، ۲۱/ ۰۶/ ۲۰۱۲:
http://www.larawbar.net/32317.html

[۶] **خوشال خان خټک، د خوشال خان خټک کليات، د عبدالقيوم زاهد مشواڼي اوډنه، پرتلنه، سمون او وييپانگه ( کابل : دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۴)۳۹۷ .**

[۷] د زيار صاب او ملگرو « ننگول » ياني په جعلي او خودساخته مانا د دې ټکي کارول.

پاته په دوهمه برخه کي